22100219

International Baccalaureate®
Baccalauréat International
Bachillerato Internacional

**PASHTO – STANDARD LEVEL – PAPER 1**
**PACHTO – NIVEAU MOYEN – ÉPREUVE 1**
**PASHTU – NIVEL MEDIO – PRUEBA 1**

Thursday 13 May 2010 (afternoon)
Jeudi 13 mai 2010 (après-midi)
Jueves 13 de mayo de 2010 (tarde)

1 hour 30 minutes / 1 heure 30 minutes / 1 hora 30 minutos

INSTRUCTIONS TO CANDIDATES

- Do not open this examination paper until instructed to do so.
- Write a commentary on one passage only. It is not compulsory for you to respond directly to the guiding questions provided. However, you may use them if you wish.

INSTRUCTIONS DESTINÉES AUX CANDIDATS

- N'ouvrez pas cette épreuve avant d'y être autorisé(e).
- Rédigez un commentaire sur un seul des passages. Le commentaire ne doit pas nécessairement répondre aux questions d'orientation fournies. Vous pouvez toutefois les utiliser si vous le désirez.

INSTRUCCIONES PARA LOS ALUMNOS

- No abra esta prueba hasta que se lo autoricen.
- Escriba un comentario sobre un solo fragmento. No es obligatorio responder directamente a las preguntas que se ofrecen a modo de guía. Sin embargo, puede usarlas si lo desea.


© International Baccalaureate Organization 2010

https://xtremepape.rs/

یوازې پر یوه متن باندې خپله تبصره ولیکئ. دا ضروري نه ده چې سمبال شویو لارښودو پوښتنو ته مستقیم ځواب ووایاست. خو سره له دې که ستاسو خوښه وي، له هغوی نه کار اخیستلای شئ.

**۱- الف (نثر)**

## سفر

شپه تیاره وه. لاره اوږده کندو کپر او دومره کږلېچنه وه چې موټر د هرې ټالې سره به د سورلیو له خولې نه بې اختیاره د «خدایه، خیر کې» چیغه وتله. موټر هم داسې بې باکه او ګړندی روان و چې تا به ویل ډرېور د سورلیوله ژوند سره لوبې کوي. ډېر اوږد او لوی موټر و. په سورلیو کې سپین ږیري، ځلمیان ، ماشومان او پوره کورنۍ رایو ځای شوې وې. سفر اوږد و او ټول پردیسان په دې هم نه پوهېدل چې کله او څنګه به منزل ته ورسېږي.

د شپې په توره تیاره کې دغه اوږد سفر له خطر نه خالي نه و او د ډرېور بې باکه او تیز چلند خو نور هم خطرناک کړی و. لاره هم اوږده او ګډوډه وه چې هره ګړۍ د موټر د اوړېدو خطر موجود و. ناستو سورلیو اوس د خپل ځان اختیار نه درلود او یوازې د ډرېور په ارادې پورې تړلی وو. سورلۍ ټولې وېرېدلې خو یوازې په مخکیني سیټ کې ناست څو کسان د ډرېور په شان وو چې د هغه د تېز او بې باکه چلند ستاینه به یې کوله او د هغه په خبر به یې په نورو سورلیو پورې په کټ کټ خندل او په ډرېور باندې به یې هره شېبه شاباش وایه. داسې برېښېده چې زمونږ د ټولو سورلیو اختیار د دغه کسانو په واک کې هم و.

کله چې د موټر رفتار نور هم پسې تېز شو زمونږ له منځ نه یو سپین ږیری هغه ته د آرام تګ وویل خو د مخکیني سیټ یو تن هغه په خوله کې وواهه او په ځای یې غلی کېناوه. یو بل غږ کړ چې که چراغونه دې خراب شي نو بیا خو به په دې دښته کې د لېوانو خوراک شو. خوهغه هم د ډرېور او د هغه خواته کسانو له مسخرو او خندا نه تنګ شو، نو وې ویل چې دا به ښه وي چې خدای یاد کړو چې سفر مو په خیر شي. خو هغه هم یو تن په خوله کې وواهه او وې ویل چې دا خو جومات نه دئ. یو بل د موټر د اوړېدو له خطر نه اندېښنه ښکاره کړه خو په هغه باندې یې دومره وخندل چې بیا بل چا خبرې ته ځان جوړ نه کړ او هر چا خپله خبره په خپل زړه کې تېروله.



https://xtremepape.rs/

د شپې په تور تم او ورانه ويجاړه لار کې زمونږ موټر په تېزۍ روان و او هر مسافر له خدايه د خپل ژوند خيريت دعا کوله. اوږده لاره ، توره شپه او دروند موټر د ټولو مسافرو وجودونه له وېرې او وهم نه لړزول. اوس نو يوازې دړېور او د مخکنۍ سيټ ناستو کسانو خبرې کولې او نورې سورلۍ داسې چوپ او غلی ناستې وې چې د خپل ژوند لحظې يې شمارلې.

خدای خبر چې څومره سفر به مو کړی و، څومره ورانه او ويجاړه لار به مو وهلې وه چې ناڅاپه ګرز شو او چې موټر دوه درې سرکوندۍ وخوړلې نو بيا مو سترګې پټې شوې او له يو بل نه خبر نه شولو.

"ملالۍ" شپږم کال لومړۍ ګڼه، د ۲۰۰۷ کال د فبرورۍ مياشت، ٤۲ مخ.

۱ - غور وکړئ چې آيا ددې داستان لپاره ټاکل شوی عنوان دده له مضمون سره مطابق دئ؟

۲ - په داستان کښې ترسيم شوي د کيسه کوونکي، دړېور او نوروسيماګانو په مينځ کښې د مناسباتو د څرنګوالي په هکله تبصره وکړئ.

۳ - په دې نثر کښې کارول شوي هغو ادبي صنايعو په اړه تبصره وکړئ چې لوستونکو ته يې د داستان په احساساتي توګه د ادراک کولو زمينه برابروي.

٤ - د داستان جوړښت څرنګه دده د مضمون د افاده کولو لپاره مرسته کوې؟



https://xtremepape.rs/

**۲- ب (نظم)**

خوشحالخان خټک

چه می زړه پر ښه کېده له واړو بد شه، ښه خو دا چه اوس یوازی د احد شه.
که ژوندون د خلقو دا دی چه لیده شی، ښه وماته مړی خلقه د لحد شه.
د دنیا یاران مي ولیدل په سترګو، هر سړی ځما په سترګو لکه دد شه.
نه حیا شته نه وفا شته نه خپلوی شته، خلق واړه په معنی لکه مرتد شه.
چه یي نن ګانده[1] له ما سره خپل قوم کا، مګر دا جور له قومه په احمد شه.
تفحص د تورو سپین نشته په چا کښي، د همه عالم په سترګو کښي رمد[2] شه.
نور به چا ته یادوم چه رد ګمراه دی، چه پیدا ځما له ځانه خلق رد شه.
فرزندان چه مي له ګېدی نه پیدا دی، پوخ ځما له ناخلفو نه کبد[3] شه.
په طالع په بخت د مال و ملک ښښتن دی، بخت هغه دی چه په بخره د بخرد[4] شه
له هغه بخته ځما توره بلا ده چه له هره ناهمواره په مدد شه.
چه د پلار له ځانه ښه ځویه پیدا شی ته به وایي چه ژوندون یی مجدد[5] شه.
چه قابل یی پیدا نه شی په اولاد کښي که هزار ځویه د پلار وی بي ولد شه.
د بهار ګلونه هیڅ دی چه تېرېږی، ښه هغه وماته ګل دی چه سرمد[6] شه.
که په ذات کښي د خوشحال آل و اولاد شته، په صفات کښي لم یلد و لم یولد شه.
یخ د نمرو تاوته نه دری خوشحاله!
په دا څه چه یو څو ورځی منجمد شه.

**کلیات خوشحال خان خټک، پېښور، ۱۹٦۰، ۱۷۱-۱۷۰ مخونه.**

[1] سبا
[2] د سترګو مرض
[3] ځګر، اینه
[4] هوښیار
[5] نوی، سردوباره
[6] همیشګی، دایمی



https://xtremepape.rs/

۱- په دې غزله کښې لوستونکو ته د شاعر پیغام څه دئ؟

۲- ددې نظم هغه ادبي ښېګڼې او صنایع تشریح کړئ چې د اثر د پیغام یې لوستونکوته د رسولو زمینه برابره کړې ده.

۳- په دې اړه تبصره وکړئ چې په دې غزله کښې د شاعر سیما څرنګه دده د اولادونو د سیما ګانو په تضاد ترسیم شوې دئ.

٤- دا تشریح کړئ چې د شعر جوړښت دده د مضمون په افاده کولو کښې له شاعر سره څرنګه مرسته کړې ده؟



https://xtremepape.rs/